# د پچې اچونې لوبه

| | |
|---|---|
| درجه | لومړۍ درجه (عمر: له ۶ څخه تر ۷ کلونو پورې) |
| د اړتیا وړ سرچینې | پیالې، توش، پلاستیکي سریخ، کوچني پنډوسکي، ورقې |
| د سرچینو لپاره بدیلې لارې | د پلاستیکي پنډوسکو پر ځای کولی شی د کاغذونو څخه د جوړ شوو پنډوسکو څخه کار واخلی. تاسو کولی شی یوازې یوه ورقه د پنډوسکي په شکل کې راغونډه کړی.<br>یادوونه: د کاغذې توپ د نمونې لپاره تاسو کولی شی د انځورونو برخه وګوری. |
| د پوښښ موضوع | عددونه او عملیې |
| په نښه شوی مهارت | ساده د جمع عملیه |
| الهام اخیستنه | Fun learning for kids |
| اړین وخت | کچیرته توپونه په خپله جوړوی ( د لوبې د چمتو کولو لپاره ۱۵ + ۵ دقیقې) |
| تیرو درسونو ته اړتیا | له ۱ څخه تر ۱۰۰ پورې شمیرې (عددونه) |
| ملاتړ ته اړتیا | په ټیټه کچه څارنه |

**د لوبې قوانین:**

| | |
|---|---|
| موخه | په دوو پیالو کې تر ډیرو د زیاتو غورځول شویو توپونو مجموعه ترلاسه کړئ. |
| قوانین | لوبغاړي نه شي کولای چې په پیاله کې د توپ اچولو لپاره له کرښې څخه تیر شي.<br><br>که چیرته توپ په هیڅ پیاله کې هم ونه غورځیږي، لوبغاړو ته هیڅ نمره هم نه ورکول کیږي. |

| مرحلې | لومړۍ مرحله: د پلاستر په کارولو سره ۱۰ پیالې سره یوځای کیږدئ. د یوه توش په کارولو سره د پیالو په دننه په لاندې برخه کې د ۱۰ څخه تر ۱۰۰ پورې شمیرې ولیکئ. د انځورونو برخه د پیالو د تنظیم د یوې بیلګې لپاره درسره وګورئ.<br><br>دوهمه مرحله: د ځمکې پر سر د پلاستر په واسطه یوه کرښه کش کړئ ترڅو زده کوونکو ته د ودریدلو لپاره ځای په نخښه شي.<br><br>دریمه مرحله: هر زده کوونکی به د کرښې څخه شاته ودریږي او توپ به د پیالو په لور واچوي. کله چې توپ په پیاله کې وغورځیده، له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د پیالې څخه توپ لرې کړي او په پیاله کې لیکل شوی نمبر ووایي.<br><br>څلورمه مرحله: د بیا ځل لپاره توپ پیالو ته واچوئ او بیا دواړه شمیرې سره جمع کړئ. دا به د لومړي لوبغاړي وروستۍ پایلې وي. زده کوونکي باید خپلې ترلاسه کړي شمیري په یوه ورقه باندې د نمرو رسوونوي پاڼي په حیث ولیکي.<br><br>پینځمه مرحله: دریمه او څلورمه مرحله له نورو لوبغاړو سره په ۵ پړاوونو کې تکرار کړئ. هغه لوبغاړی چې تر ټولو اوچتې نهایي نمبرې د دوو لاسته راوړل شوو نمبرو د یوځای کولو څخه وروسته ولري، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
|---|---|

| | |
|---|---|
| | یادونه: د مساوي کیدو په صورت کې، لوبغاړي کولی شي بیا لوبه ترسره کړي.س |

| | |
|---|---|
| **انځورونه:** | د ورقې څخه جوړ شوی توپ<br><br>د پیالو د ترتیب یوه بیلګه چې په خپل منځ کې وړې شمیرې لري کومې چې کولی شو لویو شمیرو ته د رهنمایي په رڼا کې تبدیلې کړو:<br><br>لوبه<br> |
| **په لوبه کې بدلونونه** | کولی شی دا لوبه د ریاضي له نورو عملیو لکه تفریق سره هم ترسره کړی. څینو پیالو ته تاسو کولی شی یو عددي شمیرې او نورو پیالو ته دوه عددي شمیرې ورکړی. |
| **غني کول** | هیڅ |
| **ساده کوونه** | 1) کوچنۍ شمیرې وکاروئ<br>2) د هغه زده کوونکو لپاره چې د سم حرکت ورکولو په مهارت کې ستونزې لري، تاسو کولی شی ډیرې پیالې وکاروی، دا کار به له زده کوونکو سره مرسته وکړي چې خپل توپ په یوه پیاله کې واچوي. |